# لوړو زده کړو وزارت

## لوګر پوهنتون

### د علمي او محصلانو چارو معاونیت

### ښوونې او روزنې پوهنځی

### د کمپیوټر زده کړې څانګه




# د کمپیوټر زده کړې څانګې کتلاک

ترتیب کوونکی : نوماند پوهنیار محمد جاوید میاخېل

۱۴۰۳ـ ۱۴۰۴

لوړو زده کړو وزارت
لوګر پوهنتون
د علمي او محصلانو چارو معاونیت

**ښوونې او روزنې پوهنځی**

**د کمپیوټر زده کړې څانګه**

# د کمپیوټر زده کړې څانګې کتلاک

د امتیاز خاوند: د کمپیوټر زده کړې څانګه

د چاپ کال: ۱۴۰۴ هـ ش

د څانګې ادرس: د لوګر ولایت مرکز، پل علم ښار، د مامورینو ښارګوټی

دغه کتلاک د څانګې د شورا په ( ۱ ) ګڼه پروتوکول او ۵ / ۱ / ۱۴۰۴ نېټې په غونډه کې او همدا راز د ښوونې او روزنې پوهنځي د فرهنګي او نشراتو کمېټې په ( ۵ ) ګڼه پروتوکول او ۸ / ۷ / ۱۴۰۴ نېټه غونډه کې او د ښوونې او روزنې پوهنځي په (     ) او     /     / ۱۴۰۴ نېټه علمي شورا کې ثبت او تایید دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو لړلیک

عنوان | مخ


سریزه.......................................................................................................................1

1. لومړی څپرکی.......................................................................................2

1.1.لومړی مبحث: د کمپیوټر زده کړې څانګې مخینه.........................................2

1.1.1. لرلید (Vision)..........................................................................3

1.1.2. رسالت (Mission)......................................................................3

1.1.3. ستراتیژیکې موخې (Strategic Goals)...........................................3

1.1.4. ارزښتونه (Objectives)................................................................3

1.1.5. تجهیزاتو برخه...........................................................................3

1.2.دوهم مبحث: د کمپیوټر زده کړې څانګې موقعیت او امکاناتو په هکله...............3

1.2.1. د کمپیوټر زده کړې څانګې ودانۍ................................................3

1.2.2. د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو احصائیه........................4

1.2.3. د کمپیوټر زده کړې څانګې جوړښت او تشکیلات.................................5

1.3.دریم مبحث: د محصلینو احصائیه او د علمي کادري غړو سره نسبت...................6

1.3.1. د ۱۴۰۳ کال پورې د محصلانو احصائیه.........................................6

1.3.2. د ۱۴۰۳ کال پورې د استاد- محصل نسبت.......................................6

1.3.3. د کمپیوټر څانګې کمپیوټر لیب:....................................................6

2. دوهم څپرکی..........................................................................................6

2.1. لومړی مبحث د کمپیوټر زده کړې څانګې کمېټې..........................................6

2.1.1. ستراتیژیک پلان کمېټې تشکیلاتي جوړښت..........................................7

2.1.2. د ستراتیژیک پلان کمېټې د دندو لایحه..............................................7

2.1.3. د کیفیت لوړاوي او اعتبارو ورکونې کمېټې تشکیلاتي جدول.......................7

2.1.4. د اعتبار ورکونې او کیفیت لوړاوي کمېټې د دندو لایحه.........................8

2.1.5. د کریکولم کمېټې تشکیلاتي جدول..................................................8

2.1.6. د کریکولم کمېټې د دندو لایحه......................................................8

دریم څپرکی...............................................................................................10

2.2.لومړی مبحث د کمپیوټر زده کړې څانګې درسي نصاب.....................................10

2.2.1. لومړی سمستر.........................................................................10

2.2.2. دویم سمستر............................................................................10

2.2.3. دریم سمستر............................................................................11

2.2.4. څلورم سمستر..........................................................................12

2.2.5. پنځم سمستر............................................................................13

2.2.6. شپږم سمستر...........................................................................14

2.2.7. اووم سمستر............................................................................15

2.2.8. اتم سمستر..............................................................................16

3. ځلورم څپرکی ........................................................................................................ 17
3.1.لومړی مبحث: د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادري غړو بیوګرافي.. ....................................................... 17
3.1.1. نوماند پوهنیار محمد جاوید میاخیل.......................................................................... 17
3.1.2. نوماند پوهنیار الله محمد رازدار........................................................................... 17
3.1.3. نوماند پوهنیار عبدالقادر سادات .......................................................................... 19
3.1.4. نوماند پوهنیار بریالی رؤفي ............................................................................... 19

## سریزه

د کمپیوټر زده کړې ځانګې کتلاک هغه منظمه او جامع مسوده ده چې د نوموړې ځانګې په اړه یکې منظم او جامع معلومات ذکر شوي دي. په دې کتلاک کې د ځانګې د تشکیل، علمي او اداري چارو په اړه جامع معلومات ذکر شوي دي. لوستونکي کولای شي چې د دې کتلاک په لوستلو سره د کمپیوټر زده کړې ځانګې په اړه پوره معلومات ترلاسه کړي.
په دې کتلاک کې د کمپیوټر زده کړې ځانګې مخینه، تشکیلات، علمي کادر غړو احصائیه، محصلانو احصائیه، د استاد او محصل نسبت، او د کمپیوټر زده کړې ځانګې لرلید، رسالت، ارزښتونه، ستراتیژیکي موخې، کمېټې، د هرې کمېټې تشکیلاتي جدول او د ځانګې د غړو بیوګرافي راوړل شوي دي.

# 1. لومړی څپرکی

## 1.1. لومړی مبحث: د کمپیوټر زده کړې ځانګې مخینه

د کمپیوټر زده کړې ځانګه لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې د لوړو زده کړو وزارت د (۲۲۶۸) ګڼې د وړاندیز او د ۴/۹/۱۴۴۴ ه ق کال سره سم او د ریاست الوزرا د عالي مقام د (۳۳۰۵) ګڼې حکم د ۱۰/۹/۱۴۴۴ نېټې سره ایجاد او په فعالیت پیل وکړ.

د کمپیوټر زده کړې ځانګې د لومړي ځل لپاره د ۱۴۰۳ ه ش کال د خزاني سمستر لپاره ۸۱ تنه محصلین جذب کړل چې تر اوسه پخپلو زده کړو بوخت دي.

د کمپیوټر زده کړې ځانګه په اوس وخت کې څلور تنه علمي کادر غړي لري چې له دې جملې څخه یې یو تن د کابل پوهنتون د معلوماتي تکنالوژۍ ځانګه کې د ماسترۍ په برنامه کې مصروف تحصیل دی او پاتې درې تنه یې د ځانګې او پوهنتون په کچه د تدریس چارې پر مخ بیایي.

د یادولو وړ ده چې همدا مهال د کمپیوټر زده کړې ځانګې اړوند ( ۱۰۴) تنه زده کړیالان د لیسانس دوري په زده کړو بوخت دي.

### 1.1.1. لرليد (Vision)

د کمپيوټر زده کړې ځانګه هڅه کوي چې د معياري تدريس په وړاندې کولو سره د هېواد په کچه يوه منل شوې ځانګه وي تر څو په معاصرو مهارتونو سمبال فارغين يې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د معياري کړنو او نوښتونو په وسيله مثبت تغير راوستونکي وي.

### 1.1.2. رسالت (Mission)

د کمپيوټر زده کړې ځانګه د معياري تحصيلي نصاب، عصري تدريسي ميتودونو، معاصرې تکنالوژۍ او څېړنيزو مهارتونو پر بنسټ سمبال ژمن، مسلکي کادرونه او ښوونکي روزي.

### 1.1.3. ستراتيژيکي موخې (Strategic Goals)

1. په اسلامي او ملي روحيه سمبال متخصص کادرونه او ښوونکي روزل.
2. د کمپيوټر په برخه کې دداسي نظري او عملي پروګرامونو جوړول چې د ورځني ژوند د مشکلاتو د حل لپاره ترې کار واخيستل شي.
3. د څېړنيزو پروژو په مرسته د ټولنې ستونزو ته حل لاره لټول.
4. په محصلينو کې د څېړنو مهارتونه لوړول.
5. محصلين د کمپيوټر ساينس له مهمو برخو لکه پروګرامينګ، معلوماتي سيستمونو، شبکه جوړونې او نورو سره اشنا کول.
6. په معلوماتي تکنالوژۍ او عصري مېتودونو سمبال تدريس.
7. د ځانګې د کمي او کيفي ارتقا لپاره علمي، مسلکي او تخصصي لارښوونو څخه کار اخيستل.
8. د يوې فزيکي او ډيجيټلي کتابخانې جوړول د ځانګې په کچه.
9. د نورو پوهنځيو محصلين له نوې تکنالوژۍ سره اشنا کول او هغوی ته د بازار د اړتياو سره سم وړتيا ورکول
10. د علمي مقالو او څېړنو خپرول

### 1.1.4. ارزښتونه (Objectives)

1. اسلامي، ملي اخلاقو او مسلکي اصولو ته ژمنتيا.
2. نوښتونه رامنځ ته کول او پلي کول
3. د چارو روڼتيا او حساب ورکول
4. د عدالت او برابرۍ تأمينول
5. چاپيريال ساتنه
6. په هر اړخيز پرمختګ کې ګډ کار
7. فرصتونه پيژندل او له شته امکاناتو او فرصتونو ګټه اخيستل

### 1.1.5. تجهيزاتو برخه

1. په LCD يا پروجکټورونو د ټولګيو سمبالول.
2. د کمپيوټر زده کړې ځانګې لپاره د پوهنځي په کچه د کمپيوټر ليب وړانديز کول.
3. د ځانګې دفتر نښلول له انټرنټ سره.
4. د داخلي او خارجي سافټ او هارډ کتابونو او لکچر نوټونو په لرلو غني کتابتون جوړول.
5. د ځانګې لپاره د لازمو اجناسو پر وخت پيشنهاد کول

## 1.2. دوهم مبحث: د کمپيوټر زده کړې ځانګې موقعيت او امکاناتو په هکله

### 1.2.1. د کمپيوټر زده کړې ځانګې ودانۍ

د کمپيوټر زده کړې ځانګې درسي خونې او تعمير چې د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي دروازې ته په داخليدو سره ښې لورې ته د ښوونې او روزنې پوهنځي دوهم تعمير(B بلاک) په

دوهم پوړ کې خپلې درسي چارې پر مخ بیایي چې مناسب درسي چاپیریال لري او صنفونه یې په LCD، خطابه میز او مناسبو میز لرونکو چوکیو سمبال دي.

د یادونې وړ ده چې د نوموړې څانګې خپل کمپیوټر لیب د اوس لپاره نشته، مګر دا چې له پوهنځي سره یې د نیاز سنجي معلومات شریک شوي نو امید دی چې ژر به د څانګې لپاره یې وسایل واخیستل شي او یو مجهز لیب جوړ شي چې د عملي زده کړو دپاره به زیات مواد او وسائل پکې شتون ولري.


### 1.2.2. د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو احصائیه

| د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو احصائیه | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | نوم | تخلص | د پلار نوم | علمي رتبه | د تحصیل درجه | تحصیلي څانګې | تقرر نېټه | کاري تجربه | علمي آثار | د علمي مقالو خپرېدل | کتنې |
| ۱ | محمد جاوید | میاخیل | محمد ایاز | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ۱۴۰/۶/۲۹ ۳ | ۱ | ۰ | ۱ | |
| ۲ | الله محمد | رازدار | راز محمد | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ۱۴۰/۶/۲۹ ۳ | ۱ | ۰ | نلري | |
| ۳ | بریالی | رؤفي | رحیم ګل | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ۱۴۰۱/۷/۶ | ۳ | ۰ | نلري | |
| ۴ | عبدالقادر | سادات | سید حضرت شاه | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ۱۴۰/۷/۲۶ ۳ | ۱ | ۰ | نلري | |

د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادر غړو لیست

### 1.2.3. د کمپیوټر زده کړې څانګې جوړښت او تشکیلات

د کمپیوټر زده کړې څانګه اوس مهال څلور تنه غړي لري چې په لاندې ډول دي.



## 1.3.	درېیم مبحث: د محصلینو احصائیه او د علمي کادري غړو سره نسبت

### 1.3.1. د ۱۴۰۳ کال پورې د محصلانو احصائیه

| کال | کمپیوټر زده کړې ځانګه |
|---|---|
| ۱۴۰۳ | نارینه |
| | ۸۱ |
| ۱۴۰۴ | نارینه |
| | ۶۳ |

**د ۱۴۰۴ کال پورې د محصلانو احصائیه**

### 1.3.2. د ۱۴۰۴ کال پورې د استاد- محصل نسبت

| کال | کمپیوټر زده کړې ځانګه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | د محصلینو شمېر | د رسمي استادانو شمېر | د غیر رسمي استادانو شمېر | د ټولو استادانو شمېر | د استاد پر محصل نسبت |
| | نارینه | | | | |
| ۱۴۰۴ | ۱۰۴ | ۴ | ۰ | ۴ | ۱پر ۲۶ |
| | ۱۰۴ | | | | |

**د ۱۴۰۴ کال پورې د استاد-محصل نسبت**

### 1.3.3. د کمپیوټر ځانګې کمپیوټر لیب:

د کمپیوټر زده کړې ځانګه خپل کمپیوټر لیب تر دا مهال نلري او د اړتیا پر وخت د پوهنتون له کمپیوټر لیب څخه ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د پوهنځي په کچه د کمپیوټر زده کړې ځانګې لپاره ځانګړی کمپیوټر لیب نیاز سنجي شوی او له پوهنځي ریاست سره شریک شوی. امید دی چې په نږدې راتلونکي کې یې له وزارت محترم مقام څخه وړاندیز منظور او جوړ شي.

# 2. دوهم څپرکی


## 2.1	لومړی مبحث د کمپیوټر زده کړې ځانګې کمېټې

د کمپیوټر زده کړې ځانګه کې لاندې کمېټې فعالیت کوي:

1. د ستراتیژیک پلان کمېټه.
2. د تحصیلي نصاب بیا کتنې کمېټه.
3. د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکوني کمېټه.

د هرې کمېټې تشکیلاتي جدول او دندو لایحه / طرزالعمل په لاندې مخونو کې راوړل شوي دی:


### 2.1.1. ستراتيژيک پلان کمېټې تشکيلاتي جوړښت




### 2.1.2. د ستراتيژيک پلان کمېټې د دندو لايحه

1. د ځانګړي پلان څخه نظارت او څارنه کېږي.
2. په هره ربع او هر کال کې پوهنځی کمېټې ته د ستراتيژيک پلان د تطبيق په اړه مستند راپور وړاندې کېږي.
3. د کمېټې غړي په غونډو کې منظم او فعال ګډون کوي او د کمېټې مشر لخوا ورسپارل شوې دندې پر وخت او سم ډول ترسره کېږي.
4. د ښې همغږۍ او اصلاحي کړنو په موخه د هر کال په پای کې پوهنځي ته کلنی راپور ترتيب او ورکول کېږي.
5. د پوهنځي د ستراتيژيک پلان کمېټې سره د پلان جوړولو او تطبيق پر مهال مرسته او همکاري کېږي.
6. د ستراتيژيک پلان د ښه تطبيق په موخه د ځانګې د کيفيت لوړاوي او اعتبار ورکوني کمېټې سره کاري اړيکې ټينګېږي.
7. د ستراتيژيک پلان د نوي کولو او ترتيب په موخه د ټولنې له خبره وګړو او اړوند اداراتو او محصلانو سره غونډې جوړېږي.
8. لږ تر لږه په دوو مياشتو کې يو ځل د کميټې غونډه دايرېږي.
9. ټولې هغه چارې سرته رسېږي چې د کمېټې اړوند مشر له خوا ورسپارل کېږي.
10. نورې هغه دندې چې د اړوندو ذيصلاح مقاماتو لخوا ورته سپارل کېږي.


### 2.1.3. د کيفيت لوړاوي او اعتبار ورکوني کمېټې تشکيلاتي جدول



### 2.1.4. د اعتبار ورکوني او کیفیت لوړاوي کمېټې د دندو لایحه

1. د ځانګې کې د کیفیت ښه والي هڅې.
2. د څارنې پر مهال بیا څارنې ته سره مرسته.
3. د لوړ زده کړو وزارت، لوړو زده کړو مؤسسې ، پوهنځی او اړوند ځانګې له ستراتیژیک پلانونو، کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکوني له مهمو اسنادو سره کامله بلدتیا.
4. د کمېټې دپاره د خودې ارزونې او بیا څارنې په بنسټ مناسب اسناد او شواهد تیارول.
5. د لوړو زده کړو وزارت، لوړو زده کړو مؤسسې، پوهنځی او اړوند ځانګې د ستراتیژیک پلانونو د تطبیق او عملي کېدو څخه څارنه.
6. د ځانګې په سطحه د پلانونو د تطبیق په پار ناستو او محفلونو ترتیب.
7. د ځانګې په سطحه د عملیاتي او بهبود پلانونو د خط سیر د تطبیق څخه څارنه.
8. د ځانګې درسي مفرداتو او کریکولم د تطبیق څارنه او د سمستر په پای کې د پوهنځی کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکوني کمېټې ته د هغه راپول استول.
9. د ځانګې د کړنو او اکادمیکو فعالیتونو څارل او ارزول.
10. د پوهنځي کیفیت لوړاوی او اعتبار ورکوني کمېټې د برنامو تطبیق او عملي کول.
11. د کیفیت ښه والي تولې هغه کړنې تر سره کول چې د اړوند ذیصلاح چارواکو له خوا سپال کیږي.

### 2.1.5. د کریکولم کمېټې تشکیلاتي جدول




### 2.1.6. د کریکولم کمېټې د دندو لایحه

1. د پلان سره سم د ځانګې تحصیلي نصاب مطالعه کول او د قوت او کمزورتیا نقاط يې معلومول .
2. د تحصیلي نصاب د نويوالي چارې په مستند ډول ترسره کول.
3. د تحصیلي نصاب د نويوالي او پرمختګ په موخه د اهل خبره وو سره غونډې ترسره کول.
4. د درسي مضامینو او مفرداتو د تعیین او تثبیت په موخه، د کار بازار سنجول، د تولنې غوښتنې او اړتیاوې معلومول.
5. د کار بازار، د تولنې د غوښتنو او اړتیاوو د معلومولو لپاره د پوښتنپانو ترتیب، تثبیت، تحلیل او په دې اړه راپور جوړول.
6. د غنامندی په موخه، د ځانګې موجوده تحصیلي نصاب د نورو پوهنتونونو مربوطه پوهنځیو د ځانګو له تحصیلي نصاب سره مقایسه کول.
7. د استادانو درسي کتابونه، لکچرنوټونه، سلایډونه او نور درسي مواد د تحصیلي نصاب له مفرداتو سره مقایسه کول.

8. لږ تر لږه په میاشت کې یو ځل د کمیټې غونډه دایرول.
9. نورې هغه دندې ترسره کول چې د اړوندو ذیصلاح مقاماتو له خوا ورته سپارل کیږي.

## دریم څپرکی

### 2.2. لومړی مبحث د کمپیوټر زده کړې ځانګې درسي نصاب

#### 2.2.1. لومړی سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا دیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | کمپیوټر اساسات | Ns.cs 111 | تخصصي | ۳۲ | ۳۲ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړې | - | |
| 2 | عمومي فزیک | Ns.cs 112 | اساسي | ۴۸ | ۰ | | ۴۸ | ۳ | فزیک | - | |
| 3 | عمومي ریاضي | Ns.cs 113 | اساسي | ۶۴ | ۰ | | ۶۴ | ۴ | ریاضي | - | |
| 4 | چلیز سیستم ۱ | Ns.cs 114 | تخصصي | ۱۴ | ۵۰ | | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | عمومي ارواپوهنه | Ns.cs 115 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 6 | د اسلام اعتقادي نظام | Sl.ic-0171 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 7 | تلاوت او تجوید | Sl.IC-0172 | پوهنتون شمول | ۰ | ۱۶ | | ۱۶ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۲۲ | ۹۸ | ۳ | ۳۲۰ | ۲۰ | | | |

#### 2.2.2. دویم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | [illegible] | درسي ساعتونه | [illegible] | [illegible] | [illegible] | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | هارډویر | Ns.cs 121 | تخصصي | ۴۰ | ۲۴ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | منطق ریاضي | Ns.cs 123 | اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ریاضي | عمومي ریاضي | |
| 3 | انکشافي ارواپوهنه | Ns.cs 124 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 4 | معاصر تاریخ | Ns.cs 125 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | تاریخ | - | |
| 5 | د پروګرام لیکنې اساسات | Ns.cs 126 | تخصصي | ۲۴ | ۴۰ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 6 | انګلیسي ۱ | Ns.cs 128 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| 7 | د اسلام عبادتي نظام | Sl.ic-0273 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 8 | سیرت | Sl.ic-0274 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۵۶ | ۶۴ | ۶ | ۳۲۰ | ۲۰ | | | |

### 2.2.3. دریم سمستر

| شمیره | مضمون | کود | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | شبکې اساسات | Ns.cs 231 | تخصصي | ۴۰ | ۲۴ | ۲ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | احصایه | Ns.cs 232 | اساسي | ۴۸ | ۰ | | ۴۸ | ۳ | رياضي | - | |
| 3 | تعلیمي اروا پوهنه | Ns.cs 233 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 4 | الکترونیک | Ns.cs 234 | تخصصي | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | فزیک | - | |
| 5 | جاوا ۲ | Ns.cs 235 | تخصصي | ۱۲ | ۵۲ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 6 | د اسلام اخلاقي نظام | Sl.ic-0375 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 7 | د اسلام تولنیز نظام | Sl.ic-0376 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 8 | انګلیسي ۲ | Ns.cs 237 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | ۰ | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| مجموعه | | | | ۲۶۰ | ۷۶ | ۵ | ۳۳۶ | ۲۱ | | | |

## 2.2.4. څلورم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې يې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | تیوري احتمالات | Ns.cs 241 | اساسي | ۴۰ | ۸ | ۰ | ۴۸ | ۳ | رياضي | - | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | د ډیټابیس اساسات | Ns.cs 243 | اختصاصي | ۴۰ | ۲۴ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 3 | ویژول بیسیک ډاټ نیټ | Ns.cs 244 | اختصاصي | ۱۲ | ۵۲ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | جاوا ۲ | |
| 4 | شبکه ۲ | Ns.cs 245 | اختصاصي | ۴۰ | ۲۴ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | شبکي اساسات | |
| 5 | اکاډمیکه انګلیسي | Ns.cs 247 | تخصصي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| 6 | فکري پوهنه | Sl.ic-0477 | پوهنتون شمول | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 7 | ادیان او مذاهب | Sl.ic-0478 | پوهنتون شمول | ۱۶ | | | ۱۶ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۱۲ | ۱۰۸ | ۹ | ۳۲۰ | ۲۰ | | | |

### 2.2.5. پنځم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه: نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | سي شارپ | Ns.cs 351 | اختصاصي | ۱۶ | ۴۸ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | تدریس عمومي میتود | Ns.cs 352 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 3 | بې سیمه شبکه | Ns.cs 353 | اختصاصي | ۳۲ | ۱۶ | ۳ | ۴۸ | ۳ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 4 | پرمختللی ډیټابیس | Ns.cs 354 | اختصاصي | ۱۶ | ۴۸ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | بدني روزنه | Ns.cs 355 | پوهنتون شمول | ۲۰ | ۱۲ | ۰ | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6 | چاپیریال ساتنه | Ns.cs 357 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | بیولوژي | - | |
| 7 | د اسلام سیاسي نظام | Sl.ic-0579 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 8 | د اسلام اداري نظام | Sl.ic-0580 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۴۴ | ۱۲۴ | ۹ | ۳۶۸ | ۲۱ | | | |

## 2.2.6. شپږم سمستر

| شمیره | مضمون | کود | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا دیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | ډیټا سټرکچر | Ns.cs 361 | اختصاصي | ۴۸ | ۱۶ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | ډیټابیس | |
| 2 | ارزیابي | Ns.cs 362 | مسلکي/ اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| 3 | د کمپیوټر درسي میتود | Ns.cs 363 | اختصاصي | ۳۲ | ۳۲ | | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 4 | چلیز سیستم ۲ | Ns.cs 365 | اختصاصي | ۸ | ۲۴ | | ۳۲ | ۲ | کمپیوټر زده کړه | چلیز سیستم ۱ | |
| 5 | اسلام اقتصادي نظام | Sl.ic-681 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| 6 | ویب ډیزاین اساسات | Ns.cs 364 | اختصاصي | ۱۶ | ۴۸ | ۳ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |

| مجموعه | | ۱۶۸ | ۱۲۰ | ۶ | ۲۸۸ | ۱۸ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|

## 2.2.7. اووم سمستر

| شمیره | مضمون | کود | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه: نظري | درسي ساعتونه: عملي | درسي ساعتونه: سمینار، علمي سفر او یا پروژه | درسي ساعتونه: مجموعه | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د شبکې امنیت | Ns.cs 471 | اختصاصي | ۲۴ | ۸ | | ۳۲ | ۲ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | تعلیمی تکنالوژي | Ns.cs 472 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 3 | څیړنه | Ns.cs 473 | اختصاصي | ۳۲ | ۱۶ | | ۴۸ | ۳ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 4 | تدریس میتود | Ns.cs 474 | اختصاصي | ۴۸ | ۱۶ | | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | پرمختللی ویب ډیزاین | Ns.cs 475 | اختصاصي | ۱۴ | ۵۰ | | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 6 | قرآن او معاصر علوم | Sl.ic-0782 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۱۸۲ | ۹۰ | ۰ | ۱۷۲ | ۱۷ | | | |

## 2.2.8. اتم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا دیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| 1 | شبکې ډیزاین | Ns.cs 481 | اختصاصي | ۳۲ | ۳۲ | ۴ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 2 | ویب پروژه | Ns.cs 482 | اختصاصي | ۳۲ | ۳۲ | ۴ | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 3 | تعلیمي اداره | Ns.cs 483 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 4 | مونوګراف | Ns.cs 485 | اختصاصي | ۱۰ | ۵۴ | | ۶۴ | ۴ | کمپیوټر زده کړه | - | |
| 5 | تعلیم و تربیې اساسات | Ns.cs 242 | مسلکي/اساسي | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| 6 | اسلامي تمدن | Si.ic-0883 | پوهنتون شمول | ۳۲ | ۰ | | ۳۲ | ۲ | اسلامي ثقافت | - | |
| | مجموعه | | | ۱۷۰ | ۱۱۸ | ۸ | ۲۸۸ | ۱۸ | | | |

# 3. څلورم څپرکی

## 3.1. لومړی مبحث: د کمپیوټر زده کړې څانګې د علمي کادري غړو بیوګرافي

### 3.1.1. نوماند پوهنیار محمد جاوید میاخیل

نوماند پوهنیار محمد جاوید میاخیل د مرحوم محمد ایاز زوی چې په ۱۳۷۵ ه ش کال د ننګرهار ولایت، حصارک غلجایي ولسوالۍ میاګانو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې زیږیدلی، نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د هجرت په دیار کې په ۱۳۸۲ کال د ګهمکول کېمپ نمبر ۲ ښوونځي د پاکستان هېواد په کوهاټ نومې سیمه کې ترسره کړې دي، له هغه وروسته له نهم صنف څخه تر دولسم صنف پورې د حضرت امام ابو حنیفه رح عالي لیسه کې چې په پاکستان هېواد کوهاټ سیمه کې موقیعت درلود شامل او په ۱۳۹۵ ه ش کال له همدې لیسې څخه په دوهمه درجه فارغ شو. استاد محمد جاوید میاخیل د لیسې له فراغت څخه وروسته په ۱۳۹۶ کال له پاکستان څخه خپل هېواد ته راستون شو. دا چې استاد په هماغه وخت کې د اقتصادي مشکلاتو له وجې سمدستي خپلو زده کړو ته ادامه نه شوه ورکولی، نو له دوه کلن ځنډ وروسته یې په ۱۳۹۸ ه ش کال د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړ او د ۲۶۶ نمرو په ترلاسه کولو سره یې د ننګرهار پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي د سافټویر انجینرۍ څانګې ته لار وموند. له دغه څانګې څخه په ۱۴۰۲ ه ش کال کې په اعلی درجه او کادري نمرو سره فارغ شو.

نوماند پوهنیار محمد جاوید میاخیل له خپل فراغت سره سم په ننګرهار ولایت کې د لوی ننګرهار په نوم په یو خصوصي ښوونځي کې د استاد په توګه د هېواد د بچیانو روزلو ته دوام ورکړ. له اووه میاشتني خدمت وروسته په ۱۴۰۳ ه ش کال کې د یوې اذادې رقابتي ازموینې له لارې د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د کمپیوټر زده کړې څانګې ته د علمي کادر په توګه لار وموند. دا چې استاد یو وړ، په کار پوه او تقوی دار علمي شخصیت و نو له تقرر سره سم د څانګې د غړو لخوا د رایو په یووالي د څانګې د آمر په توګه و ټاکل شو چې تر اوسه خپله دنده په پوره اخلاص او امانتدارۍ سرته رسوي. په علم، عمر او صحت دې یې برکت وي.

### 3.1.2. نوماند پوهنیار الله محمد رازدار

نوماند پوهنیار الله محمد رازدار د راز محمد زوی په ۱۳۷۹ هـ.ش کال کې د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ د مقرب خیلو کلي کې په یوه دینداره، نومیالۍ او علم پاله کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. نوموړی د یوې بااصوله د علم او تقوا سره ژمنې کورنۍ غړی دی، د ابتدائي زده کړې یې پخپله کورنۍ کې ترلاسه کړي. له ابتدائي او ثانوي زده کړو سره یوځای یې په ۱۳۹۷ هـ.ش کال کې د باتور عالي لیسې څخه په ممتاز ډول( دویمه درجه ) فراغت ترلاسه کړ. د نوموړی د ۱۳۹۸ هـ.ش کال کانکور

آزمويني له لارې د پکتيا پوهنتون ښووني او روزني پوهنځي کمپيوټر ساينس څانګې ته لار ومونده او په ۱۴۰۲ هـ.ش کال له ياد پوهنتون څخه فارغ شو. د څلورو کلونو په اوږدو کې نوموړي نه يوازې د نظري زده کړو په برخه کې غوره وړتيا وښوده، بلکې د عملي تجربو په برخه کې يې هم د پام وړ لاسته راوړنې لرلې. ده د پوهنتون د تحصيل ترڅنګ د ۱۳۹۹ هـ.ش کال څخه تر ۱۴۰۰ هـ.ش کال پورې د همدې پوهنتون د ICT Center Workshop کې د تخنيکي همکار په توګه دنده ترسره کړه، او بيا يې د ۱۴۰۱ هـ.ش کال څخه تر ۱۴۰۲ هـ.ش کال پورې د بشري سرچينو مديريت په اداره کې د عملي زده کړو ارزښتناک سفر بشپړ کړ. دې تجربو نوموړي ته د علمي ژورتيا ترڅنګ د مديريت، تنظيم او مسؤليت احساس پراخه پوهه ورکړه. له بريالي فراغت وروسته په ۱۴۰۳ هـ.ش کال کې د آزاد رقابت له لارې د پکتيا سباوون خصوصي عالي ليسې ته د کمپيوټر د استاد په حيث وټاکل شو. د شپږو مياشتو خلاقانه او اغيزمن تدريس وروسته يو ځل بيا يې د سيالۍ ميدان ته مخه کړه، چې د خپلې وړتيا او استعداد پر بنسټ په ۱۴۰۳ هـ.ش کال کې د آزاد رقابت له لارې د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د کمپيوټر زده کړې څانګې ته د علمي کادر غړي په صفت وګمارل شو. نوموړی تر دې دمه په همدې علمي بنسټ کې له پوره ژمنتيا، اخلاص او علمي مسؤليت سره خپله مقدسه وظيفه پرمخ وړي، او د يو متعهد استاد، فعال څېړونکي او اخلاق محوره لارښود په توګه د خپلو محصلينو او ټولنې لپاره الهام بښونکی شخصيت ګڼل کېږي.

### 3.1.3. نوماند پوهنیار عبدالقادر سادات

نوماند پوهنیار عبدالقادر سادات، د محترم سید حضرت شاه هاشمي زوی، په ۱۳۷۳ هجري لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالی اړوند د قلعه میرجی کلي د ساداتو په یوه دینداره، فرهنګپاله او علمدوسته کورنۍ کې نړۍ ته راغلی دی.

نوموړي خپلې لومړنۍ، متوسطه او ثانوي زده‌کړې له لومړي تر دولسم ټولګي پورې، د همدې ولسوالۍ په حصارکمزیني عالي لیسه کې بشپړې کړې، او په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال کې د ټولګي د دویم نمره فارغ‌التحصیل په توګه یې د ښوونې دغه پړاو پای ته ورساوه.

ښاغلی سادات د ۱۳۹۳ هجري لمریز کال د کانکور سرتاسري ازموینې له لارې، د ۲۹۳ نمرو په ترلاسه کولو سره، د کونړ ولایت د سید جمال‌الدین افغان پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي ته بریالی شو. نوموړي له یو کلن تحصیل وروسته، د علمي دلایلو پر بنسټ دننګرهار پوهنتون ته تحصیلي انتقال وکړ، او هلته یې د کمپیوټر ساینس پوهنځي د معلوماتي سیستمونو (Information Systems) له څانګې څخه، په ۱۳۹۸ هجري لمریز کال کې، په کادري درجه بریالی فراغت ترلاسه کړ. ښاغلی سادات نه یوازې د تحصیلي لاسته راوړنو له اړخه، بلکې د علمدوستۍ، ژمنتیا، او نظم له مخې د خپلو استادانو او همصنفیانو ترمنځ د درناوي وړ شخصیت ګڼل کېده.

د فراغت وروسته، نوموړی په ۱۳۹۹ هجري لمریز کال کې د آزاد رقابت له لارې، د افغانستان د الکترونیکي تذکرو د ملي پروګرام په چوکاټ کې، د نورستان ولایت د سرټیم (Team Leader) په توګه استخدام شو. نوموړي دا مسؤلیت د لوړې ژمنتیا، مسلکي مهارت، او اداري مسؤلیت‌پالنې سره تر سره کړ. په ۱۴۰۱ هجري لمریز کال کې، ښاغلي سادات له یادې دندې استعفا وکړه، او د سویډن کمیټې (Swedish Committee for Afghanistan) لخوا اعلان شوې د معلوماتو آفیسر (Data Officer) بست ته بریالی شو. هغه د یادې موسسې سره د دوه کلونو په موده کې، د معلوماتي سیستمونو، راپور جوړونې، او ډېټا مدیریت په برخو کې ارزښتناک، اغېزمن او معیاري خدمات ترسره کړل، تر هغې چې د ۱۴۰۳ هجري لمریز کال په ترڅ کې د یادې موسسې فعالیتونه پای ته ورسېدل.

په همدې کال (۱۴۰۳)، ښاغلی سادات یو ځل بیا د آزادې سیالۍ له لارې، د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي، د کمپیوټر زده‌کړو څانګې ته د علمي کادر د غړي په توګه وټاکل شو، او تر ننه پورې د همدې علمي بنسټ په چوکاټ کې، خپلې تدریسي، څېړنیزې او خدماتي دندې په پوره اخلاص، ژمنتیا او ابتکار سره پر مخ وړي.

نوماند پوهنیار عبدالقادر سادات یو هوښیار، مسؤلیت‌پاله، باانضباطه او نوښتګر علمي شخصیت دی، چې د لوړو زده کړو د معیاري کېدو، د علمي نسل د روزنې، او د ټکنالوژۍ د ودې له لارې د هېواد د پرمختګ لپاره ځانګړې هڅې او ژمنتیا لري

### 3.1.4. نوماند پوهنیار بریالی رؤفي

بریالی رؤفي د رحیم ګل زوی دی، چې د میدان وردګو ولایت، سیدآباد ولسوالۍ، تنګي دره جان محمد خېل کلي اوسېدونکی دی. ښاغلي رؤفي خپلې لومړنۍ زده کړې د خپل کلي د امام مسجد له ملا امام څخه ترلاسه کړي دي.

نوموړی په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې د کابل ښار د امام ابوحنیفه عالي لیسه کې شامل شو او په ۱۳۹۴ هـ ل کال کې له همدې لیسې څخه په درېیمه درجه فارغ شو. وروسته، په ۱۳۹۵ هـ ل کال کې د عمومي کانکور له لارې د پکتیا پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کمپیوټر ساینس څانګې ته بریالی شو او په ۱۳۹۸ هـ ل کال کې له یادې څانګې څخه د ۸۰.۵۲٪ نمرو په ترلاسه کولو فارغ شو.

له فراغت وروسته، ښاغلي رؤفي په ۱۳۹۹ هـ ل کال کې د پکتیا ولایت د صدارت خصوصي عالي لېسه کې د ښوونکي په توګه دنده پیل کړه. بیا په ۱۴۰۰ هـ ل کال کې د پکتیا ولایت د مرکزي ګمرک اداري مدیر وټاکل شو.

په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې، نوموړی د وردګو ولایت د لوړو زده کړو موسسې د معلوماتي ټکنالوژۍ مدیر وټاکل شو. همداراز، د همدې کال د ۷مې میاشتې په ۶مه نېټه د یوې رقابتي ازموینې له لارې د لوګر د لوړو زده کړو موسسې د کمپیوټر ساینس څانګې د علمي کادر غړی شو.

په ۱۴۰۳ هـ ل کال کې، ښاغلی رؤفي د عمومي کانکور له لارې د کابل پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي د معلوماتي ټکنالوژۍ ماسترۍ برنامې ته بریالی شو او دا مهال په یاده برنامه کې په زده کړو بوخت دی.

په عمر، علم او روغتیا دې برکت وي.